د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر Logar

میاشتنی خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنی سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

یکشنبه د۱۳۹۸ کال دکب میاشتې څلورمه، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د فبروري درویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۰) لومړی کال، نهمه ګڼه


رسول الله (ص) فرمایلي دي: هرچا چې دمسلمانانو دکومو چارو مسؤلیت پرغاړه واخیست بیایې دخپلوي او دوستی له کبله پر یوه ځوکی او دنده ځوک مقرر او وګماره ( او یا یې همدارنګه له بیت المال څخه څه شی ورکړ.) پر دغه کس دالله تعالی لعنت دی. دده به الله تعالی نه فرایض او نه نوافل قبلوي آن چې بیا به یې دوزخ ته ننباسي. (هغه مال چې د دوستی یا دخپلوی له کبله یې چاته ورکړی، دقیامت په ورځ به حاضر وي .) رواه حاکم

## سی تن جوانان برتر امتحان سیرت امام ابوحنیفه (رحمت الله علیه) تقدیر شدند

با اعلام نتایج آزمون سیرت امام ابوحنیفه (رحمت الله علیه)، سی تن جوانان که نمرات عالی کسب نموده بودند، با اهدای تحایف، تقدیر نامه ها وجوایز مورد ستایش قرار گرفتند.

این آزمون که قبلاً از سوی ریاست اطلاعات وفرهنگ، محصلین لوگر در پوهنتون کندهار ورادیو زینت با حضور داشت دوصد تن دانش آموزان وجوانان راه اندازی گردیده بود، به تاریخ 22 ماه دلو نتایج آن اعلان گردید وسی تن آنان مورد تقدیر قرار گرفتند.

به مقام اول یک پایه کمپیوتر لب تاپ وپنج هزار افغانی، به مقام دوم وسوم یک یک عراده بایسکل و دوهزار افغانی وهمچنان مبایل، لباس، کتاب، کتابچه وقلم توزیع گردید.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر در جریان صحبت هایش هدف از راه اندازی این آزمون را آشنایی کاملتر جوانان با سیرت و شخصیت امام ابوحنیفه (رحمت الله علیه)، تشویق جوانان به کسب علم وایجاد روحیه اعتماد و وحدت میان جوانان خواند وافزود که جوانان باید فرصت های شانرا از دست ندهند و اصل مشارکت وهمکاری میان آنان ایجاد شود.

تورن جنرال محمد نبي احمدزی معاون والی لوگر این فعالیت ریاست اطلاعات وفرهنگ را ستودنی عنوان کرد وافزود که جوانان باید روی کسب علم ودانش توجه جدی نمایند، تا آینده درخشان یی را رقم زنند.

قابل یاد آوری است که در بخش جوایز وتحایف معاون والی لوگر، داکتر خالد مومند وهما احمدی نماینده گان مردم لوگر در پارلمان مساعدت نموده بودند. **باختر**



## جلسه کمیته مصئونیت خبرنگاران درلوگربرگزارشد

کمیته مصئونیت خبرنگاران تحت سرپرستی محمدانورخان اسحاقزی والی لوگربه تاریخ 7 دلو تدویرجلسه نمود که درجریان مجلس روی مشکلات خبرنگاران بحث های همه جانبه صورت گرفت.

جلسه که به این مناسبت درمقام ولایت لوگرتدویریافته بود درآن محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ، نورالله ستانکزی رییس انجمن آزاد ژورنالیستان لوگر، امین الله صفا آمراطلاعات وخبرنگاران اشتراک ورزیده بودند.

دراین جلسه محمدانورخان اسحاق زی والی لوگر درجریان صحبت هایش گفت که هرخبرنگار اگر به مشکلات مواجه می شوند، به شکل مستقیم مشکلات شانرا با مقام ولایت درمیان بگزارند. عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ روی دست آوردهای ریاست اطلاعات وفرهنگ دربخش رسانه ها وخبرنگاران، صحبت های همه جانبه نمود وفعالیت یکماه اخیر این ریاست ستودنی عنوان شد.

قابل یاد آوری است که جلسات کمیته مصئونیت خبرنگاران هرماه یکبار تحت سرپرستی والی لوگرومعاونیت رییس اطلاعات وفرهنگ برگزارمیگردد. **باختر**



## د (سبک پیژندنې میتودولوژي) علمي او څېړنیز کتاب مخکتنه تر سره شوه

دسلواغې ۲۲ مه

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په نوښت د همدې ریاست د غونډو په تالار کې د الله محمد اتل مشوانې څېړنیز او علمي کتاب (د سبک پیژندنې میتودولوژي) کتاب مختکتنه وشوه.

په دې غونډه کې د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل او لوګر پوهنتون مشر پوهنمل عبدالناصر ستانکزي په ګډون؛ ګڼ شمیر ادیبانو، لیکوالانو، استادانو، فرهنګیانو او په لسګونو ځوانانو برخه اخیستې وه.

غونډې ته علمي مقالې واورول شوې، ویناوالو دغه څېړنیز او تخلیقي اثر په پښتو ادبیاتو کې یوه ستره لاسته راوړنه وګڼله.

د خبرو په ترڅ کې بیلابیلو ویناوالو وویل؛ له بده مرغه په ادبیاتو او په ځانګړې توګه په پښتو ادب کې ډیری لیکوالان د خپلو آثارو د کمیت په لوړولو باندې بوخت دي او کوښښ کوي، چې ډیری کتابونه او آثار یې په نوم چاپ شي او په دې کار سره یې نوم اوږد شي؛ بلکې اړتیا ده، چې غوره او خلکو ته منلي آثار پرېښودل شي.

دوی زیاته کړه هغه چې کمیت ته کار کوي کتاب به یې یوازې له ځو خورو ورو او بې ترتیبو مقالو او نثرونو څخه ډک وي نور به نه میتودولوژي وي، نه تحقیق او نه هم څېړنه، لیکن خوشبختانه د ادبیاتو په برخه کې ټول حالت هم دا ډول نه دی داسې استادان او د ادب او لیکوالی سرلاري هم شته چې په ادبیاتو کې یې د لوستونکو او محصلینو اړتیاوو ته په کتو سره پنځونې کړې دي، چې له دې جملې څخه یو هم د ځوان لیکوال اتل مشوانې همدا تخلیقي او څېړنیز اثر (د سبک پیژندنې میتودولوژي) ارزښتمن او دروند کتاب دی.



د دوی په وینا اتل مشوانې د ټولنې، ادبیاتو او لیکوالی اړتیا په ژوره توګه مطالعه کړې او بیا یې دې سترې چارې ته ملا تړلې دی او په ویاړ سره وایو چې دې برخه کې بریالی شوی هم دی. ویناوالو د خپلو خبرو په ترڅ کې اتل مشوانی د همدې لویې تشې په ډکولو سره د پښتو ادب باصلاحیته او باذوقه ادیب او لیکوال وباله.

د ویناوالو له خوا د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست وروستي علمي فعالیتونه او نوښتونه وستایل او د ورته چارو د دوام غوښتنه یې وکړه. د یادونې وړ دی، چې د غونډې په پای کې ۹۵ ټوکه بیلابیل کتابونه په ګډونوالو وویشل شول.

## دست رسی به بیش از پنج هزار جلد کتاب، به شکل آنلاین

ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر ومرکز آموزشی لنکن بمنظورنهادینه ساختن فرهنگ مطالعه زمینه دست رسی به کتب را به شکل آنلاین مهیا نمود.

برنامه که به این مناسبت درکتابخانه عامه راه اندازی شده بود درآن عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ، عبدالفتاح مفلح مسوول مرکزآموزشی لنکن، عبدالاحمد فیضی مسوول کتابخانه عامه وده هاتن جوانان رضا کار شرکت ورزیده بودند.

رییس اطلاعات وفرهنگ میگوید که درکتابخانه عامه بیش ازدوازده هزارجلد کتاب های مختلف وجود دارد که ازآنجمله 5500 جلد آن درج دیتابیس شده است که علاقه مندان کتاب میتوانند به شکل آنلاین ازاین کتب استفاده نمایند وکتاب های چاپی را ازکتابخانه عامه بدست آورده می توانند.

آقای تسل افزود که با گذشت زمان باید کارهای ادارات با میکانیزم مشخص به شکل عصری شود تا مردم به راحتی ازخدمات مستفید گردند.

قابل یاد آوری است که دیتابیس کتاب ها ازصفحه اجتماعی ریاست اطلاعات وفرهنگ به دست نشرسپرد میشود واین ریاست درتلاش آن است که زمینه دست رسی به تمام کتب کتابخانه عامه را به شکل آنلاین، مساعد نماید. **باختر**

سرلیکنه ...

## دسلواغې ۲۶مه په هېواد کې دبرې ورځ!

له نن څخه پوره ۳۱ کاله وړاندې دسلواغې په ۲۶ مه افغانانو دشوروي اشغالګرو پوځونو څخه خپل هېواد آزاد کړل، چې دغه پرتمینه آزادي ټولو هیوادوالو ته لوی ویاړ ګڼلی شو. افغانان هر کال دغه ورځ د ژغورنې د ملي ورځې په نوم لمانځي.

دمرغومي ۶ مه ۱۳۵۸ هجري لمریز کال دهیواد په پاکې خاورې دشوروي یرغلګرو پوځونو ستر یرغل او نه هیریدونکې ورځ؛ چې افغان ولس ته یې ګڼې ستونزې او ناخوالې واړولې، هېوادوال یې په دربدری کینول او دغه ورځ په هیواد کې د بدمرغیو او ناورین ستره پیلامه هم ګڼلی شو.

سره پوځ؛ نه یوازې زموږ هیوادوال یې له سترو ننګونو سره مخ کړي ؤ، بلکې خپل هیواد یې هم په ګڼو سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ننګونو وځاپه.

یرغلګرو روسانو زموږ په هېواد کې په ظلمونو لاس پورې کړ، یومیلیون څخه زیات هیوادوال یې شهیدان کړل، کونډې، رنډې او یتیمان تراوسه هم په فقر اوبیوزلۍ کې ورځې اوشپې سبا کوي.

روسي یرغلګرو زموږ بې ګناه هیوادوال یې ودردول، په شهیدانو او ټپیانو سربیره؛ ډیری کسان لا تراوسه تري تم دي او دکورنۍ پاتي غړې یې دهغوی دراتګ لارې څاري.

روسانو زموږ دهیواد ګڼ شمیر ملي تاسیسات ونړول او هیوادوال یې د اقتصادي ستونزو سره مخ کړل، دهیواد ښوونیز مرکزونه یې په سیاسي مرکزونو بدل کړل، دخلکو ذهنونه یې مغشوش اوغوښتل یې چې دلینن او کمونیزم په عقیدوي افکارو یې واړوي.

خو زموږ اتل ولس چې اسلامي اوایماني جذبه ورسره وه او شته، په میړانې توګه دروسانو په وړاندې ودریدل او دسپیڅلي جهاد جنډه یې پورته کړه. افغانانو دیرغلګرو سرو پوځیانو په مقابل کې په تش لاس مقاومت ته دوام ورکړ او د روسانو په مقابل کې ډیرې مبارزې اود څوکلونو جهاد په پایله کې بریالیتوب افغانانوترلاسه کړل او د هیواد بیرغ یې په ټول هېواد کې ورپا وه.

روسان چې دافغانانو له کلکو مبارزو سره مخ شول، په ټیټو سرونو زموږ دهیواد پریښودو ته اړ او دافغانستان له خاورې څخه په تیښته وتښتیدل. د سره پوځ د ماتې لویه کامیابي، د دې خاورې د ټولو پرګنو، ولسونو او سیمو دګډې قربانیو پایله وه.

روسانو ته نه؛ یوازې زموږ په خاوره کې مالي تاوانونه واوښتل؛ بلکې ځاني تاوانونه چې په زرګونه د روسي یرغلګرو ککری زموږ په خاوره کې خاورې شوې.

د۱۳۶۷ هجري لمریز کال دسلواغې ۲۶مه دهیواد څخه دسرو لښکرو وروستنی قوه چې دحیرتانو له پله واوښته دا دافغانانو دجهاد او مبارزې ثمره وه، چې سره پوځ یې له هېواده وشړل او له تاریخي ماتې سره یې مخ کړل.

هریرغلګرچې افغانستان ته په بدنیت کتلي، نو دا څرګنده خبره ده، چې د وخت انګلیسانو اوشورویانو په څیر غابښ ماتونکي ځواب سره مخ شوي دي؛ څو یرغلګر او نور هیوادونه دا یادساتي چې په شوم نیت زموږ هیواد ته ونه ګوري او په دې سوچ کې هم ونه اوسي، چې ګوندې دافغانستان خاورې ته ورننوتل آسان ؛ بلکې په دې سوچ کې شي، چې افغانستان خاورې ته په بد نیت ورتګ آسان او بیرته تګ یې له ګړنګونو سره مخ ، ګوډ او مات به له پښو وغورځي.

د روسانو ناکامي په افغانستان کې ټولو نړیوالو ته ثابته شوه، چې افغانستان یوداسې هیواد دی، چې ولسونه یې دخپلو سرو نو نه تیر دي، خو دخپل هیواده نه تیریږي.

ربنتیا هم دازموږ دنیکونو او پلرونو هغه شعار دی، چې په ماشومتوب کې ټولو افغانانو ته په زانګو کې ویل شوې او داسې دغیرت درس یې ټولو ته ورکړی، چې هیڅکله به ددې درس نه یو افغان هم مخ وانهړوي، په خپلو دریځونو به دریږي او دخپلې خاورې ساتنه به په اتلولیو سره کوي. هیوادوالو ته به دخپلو سر ونو په بیه خدمت کوي او دخپلې پاکې خاورې دساتنې لپاره به هر راز قربانیو ته تیار وي.

تربیا دخدای پامان

مدیر

فرهنګ دیوې ټولنې دبنسټیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي، نو د خپل فرهنګ په ساتلو او له بهرنیو فرهنګ څخه ژغورل دهرافغان دنده ده!